## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**17قوس_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**پاکستان کې سلګونه افغان مهاجرین د دغه هېواد د پولیسو له خوا نیول شوي دي ------------------------------------1**

**بسته های صحی برای نزدیک به 800 خانواده در ولایت ننگرهار توزیع شد -----------------------------------------1**

**کابل کې تر سلو زیاتو کسانو سره مرسته وشوه ---------------------------------------------------------------------2**

**بیش از 100 خانواده در ولایت جوزجان مساعدت شد ----------------------------------------------------------------2**

**بازداشت ۸۰۰ مهاجر افغان در پاکستان به اتهام شرکت در اعتراض‌های ضد حکومتی-----------------------------------3**

**اروپايي ټولنه له صربستان سره د پولو د څارنې لپاره ۱۴ میلیونه یورو مرسته کوي ----------------------------------5**

**سویډن هغه کډوال څاري چې خپلو هېوادونو ته سفر کوي -------------------------------------------------------------7**

**صربستان ۱۴ میلیون یورو از اتحادیه اروپا برای کنترل مرزی های خود دریافت می‌کند ------------------------------8**



خبرنامه

# متن کامل اخبار

## پاکستان کې سلګونه افغان مهاجرین د دغه هېواد د پولیسو له خوا نیول شوي دي

د وزارت ویب سایت

د پاکستان په اسلام اباد کې د مېشتو افغان مهاجرینو د اتشې د راپور له مخې، د لېندۍ پر دیارلسمه نېټه د پاکستان د تحریک انصاف ګوند د پلویانو له خوا د مظاهرې له پای ته رسېدو وروسته، د دغه هېواد پولیسو اعلان وکړ چې افغان مهاجرینو هم په مظاهره کې برخه اخیستې وه او ځینې یې ونیول شول.

په ورته وخت کې د پاکستان د کورنیو چارو وزیر د یو خبري کنفرانس پر مهال ویلي، چې ۱۹ افغانانو په مظاهره کې ګډون کړی وو او د پولیسو له خوا د هغوی د هویت له تایید وروسته نیول شوي دي.

هغه زیاته کړه چې د روان میلادي کال له دسمبر میاشتې وروسته به افغان مهاجرین په اسلام اباد کې د اوسېدو له جواز یا NOCپرته پاتې نه شي او د همدې میاشتې تر پایه دې د اسلام اباد د پولیسو کمېشنرۍ دفتر ته ورشي او په اسلام اباد کې دې خپل ځانونه او کورنۍ ثبت کړي که نه، نو دوی به د اسلام اباد له ښاره وایستل شي.

خو د پاکستان د کورنیو چارو وزارت د وزیر د څرګندونو خلاف، په تېرو څو ورځو کې د اسلام اباد امنیتي ادارو په هغو سیمو کې چې مهاجرین اوسېږي، د مهاجرینو د نیولو لپاره پراخ عملیات پیل کړي او تر اوسه یې ۸۰۰ افغانان نیولي او بندیان کړي دي.

روانو پېښو ته په کتو د مهاجرینو د اتشې مسولین د اسلامي امارت د سفارت په همکارۍ دا اعلان د ټویټر له لارې شریک کړی او هغه ادعا یې رد کړې چې ګڼې مهاجرینو د پاکستان د تحریک انصاف په مظاهره کې برخه اخیستې وه، خو پولیس لا هم دوی ځوروي او نیولي یې دي.

په اعلامیه کې له پاکستان هېواد څخه غوښتل شوي چې له افغان مهاجرینو څخه د سیاسي وسیلې په توګه کار وانخلي او همدا راز په اسلام اباد کې د اتشې له مسولینو څخه هم غوښتل شوي چې د افغان مهاجرینو چارو کې چیف کمېشنرۍ د کورنیو چارو وزارت، سفران وزارت او د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ ته په لیکلي ډول د بندیانو شمېرې ورکړي او د افغان مهاجرینو د ژر تر ژره خوشې کېدو غوښتنه یې کړې.

دغه راز د مهاجرینو د خلاصون په موخه د اتشې دفتر د آزادو امنیتي حوزو له زندانونو څخه ډېر مهاجرین راخوشي کړي او د نورو مهاجرینو د خلاصون هڅې رواني دي.

## بسته های صحی برای نزدیک به 800 خانواده در ولایت ننگرهار توزیع شد

ویب سایت وزارت




**برای 798 خانواده برگشت کننده در ولایت ننگرهار، بتاریخ 14 قوس بسته صحی توزیع شد.**

**خانواده های متذکره که از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت قبلاً در و لسوالی دره نور مورد شناسایی قرار گرفته بودند یک بسته صحی کمک موسسه OCHAR را دریافت نمودند.**

## کابل کې تر سلو زیاتو کسانو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت

**د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په هلو ځلو او د خوړو نړیوال سازمان په مالي مرسته د لېندۍ پر څوارلسمه د کابل ولایت اتلسمه او شلمه ناحیو کې ۱۴۵ مستحقو تنو هر یو ته ۲ زره او ۹۰۰ افغانۍ او د خوارځواکۍ یوه کڅوړه وویشل شوې**

## بیش از 100 خانواده در ولایت جوزجان مساعدت شد

ویب سایت وزارت



**برای 122 خانواده در ولایت جوزجان کمک نقدی و پوشاک زمستانی به تاریخ 15 قوس توزیع شد.**

**خانواده های یاد شده شامل برگشت کنند گان کشور های همسایه بوده که قبلاً مستحق شناخته شده بودند.**

**کمک یاد شده مبلغ 17 هزار و 250 افغانی و یک بسته پوشاک زمستانی از جانب سازمان بین المللی مهاجرت بود که هر خانواده آن را با نظارت ریاست امور مهاجرین دریافت نمودند.**

## بازداشت ۸۰۰ مهاجر افغان در پاکستان به اتهام شرکت در اعتراض‌های ضد حکومتی

طلوع نیوز



وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان می‌گوید که هشت‌صد مهاجر افغان در پاکستان به اتهام شرکت در اعتراض‌های ضد حکومتی در این کشور بازداشت شده‌اند.

این وزارت در خبرنامه‌ای گفته است که در چند روز گذشته، نهادهای امنیتی در اسلام‌آباد عملیات‌های گسترده‌ای را برای بازداشت مهاجران انجام داده و ۸۰۰ مهاجر افغان را به اتهام اشتراک در اعتراضات حزب تحریک انصاف پاکستان بازداشت و زندانی کرده‌اند.

در بخشی از خبرنامه وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان آمده است: «طی چند روز گذشته، نهادهای امنیتی در اسلام‌آباد در مناطق زیست مهاجران عملیات‌های گسترده‌ای برای بازداشت مهاجران آغاز نموده‌اند و تا اکنون ۸۰۰ مهاجر افغان را بازداشت و زندانی کرده‌اند«.

آصفه ستانکزی فعال حقوق مهاجران گفت: «مهاجران در پاکستان باید بکوشند در مسایل سیاسی و اعتراض‌های مردمی این کشور شرکت نکنند و از طرف دیگر مقام‌های افغانستان در پاکستان با رای‌زنی‌های لازم با این کشور در خصوص اقدام برای همکاری با مهاجرانی که دچار چالش‌ها هستند کنند«.

وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان همچنان از دولت پاکستان خواسته است که نباید مهاجران افغان را به عنوان ابزار سیاسی قرار دهد.

بر اساس خبرنامه این وزارت، مسوولان اتشه مهاجران افغان در اسلام‌آباد نیز آمار بازداشت‌شدگان را به کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان شریک کرده و خواهان رهایی فوری مهاجران افغان شده‌اند.

**خبرنامه افزوده است: «مسوولان اتشه در اسلام‌آباد آمار و ارقام بازداشت‌شدگان را به صورت کتبی به وزارت داخله، کمیشنری عالی امور مهاجران افغان، وزارت امور خارجه و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان شریک کرده و خواهان رهایی بی‌درنگ مهاجران افغان شده‌اند«.**

**برخی از مقام‌های پاکستانی پیش از این ادعا کرده بودند که شماری از شهروندان افغان به دلیل مشارکت در اعتراض‌های ضد دولتی حامیان عمران خان بازداشت شده‌اند.**

**میرویس خاورین مهاجر افغان در پاکستان گفت: «تعدادی از مهاجرانی که برای رفع مشکل خود به بازار رفته بودند، از سوی پولیس به بهانه‌های مختلف گرفتار کردند«.**

**پیش از این، وزیر داخله پاکستان در کنفرانس مطبوعاتی گفته بود که پس از ماه دسمبر سال جاری میلادی، مهاجران افغان بدون جواز اقامت نمی‌توانند در اسلام‌آباد بودوباش کنند.**

## اروپايي ټولنه له صربستان سره د پولو د څارني لپاره ۱۴ میلیونه یورو مرسته کوي

مهاجرنيوز




**اروپايي ټولنې ژمنه کړې ده چې د صربستان پر پولو د امنيتي تدابيرو د زياتولو په موخه د بالکان له دغه هېواد سره ۱۴ میلیونه یورو مرسته کوي. دا په داسې حال کې ده چې له ۲۰۲۳ راهیسې د صربستان له لارې اروپايي ټولنې ته د اوښتونکو کډوالو په شمېر کې کموالی راغلی دی.**

صربستان پر خپلو پولو د امنیتي تدابیرو د ډېرولو لپاره له اروپایي ټولنې څخه ۱۴ میلیونه یورو ترلاسه کوي.

د فرانسې د خبري اژانس د خبر له مخې، بلګراد کې د اروپایي ټولنې د پلاوي مشر امانویل ژیوفرې ویلي دي چې دغه مرسته کې هغه تجهیزات شامل دي چې د ځمکنیو او سمندري پولو د ساتلو لپاره ترې کار اخیستل کیږي.

بل پلو د صربستان د کورنیو چارو وزیر اویکا داچیچ ویلي دي که څه هم د صربستان او هنګري ترمنځ د کډوالی لار «عملاً تړل شوې ده»، خو هره ورځ نوې لارې جوړیږي .نوموړي ویلي چې په ۲۰۲۳ کې د مخکني کال په پرتله دغه هېواد ته د اوښتونکو کډوالو شمېر شاوخوا ۷۰ سلنه کم شوی دی.

د کډوالی نړیوالي اداري د شمېرو له مخې، د ۲۰۲۴ له جنورۍ څخه تر اکتوبر پورې څه باندې ۱۵۲۰۰ کډوالو ځانونه صربستان ته رسولي دي. په ۲۰۲۳ کې ۱۰۶ زره خو په ۲۰۲۲ کې بیا ۱۲۰ زره مهاجر د لوېدیځ بالکان دغه هېواد ته اوښتي وو.




فرانتکس په شمالي مقدونیه او بوسنیا کې

د اروپا د پولو ساتنې ادارې یا فرانتکس په وینا، د روان کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د بالکان هېوادونو له لارې اروپایي ټولنې ته د اوښتونکو کډوالو په شمېر کې د تېر کال په پرتله ۷۱ سلنه کمښت راغلی دی. دغه اژانس وایي چې د ۲۰۲۴ له جنورۍ څخه تر می پورې څه باندې ۸۹۰۰ کډوالو پر دغه لار ځانونه اروپایي ټولنې ته رسولي دي.

دمګړی د فرانتکس یو شمېر سرتېري د صربستان، هنګري او بلغاریا پر ګډو پولو دنده ترسره کوي. اروپایي ټولنه وایي چې د دغه اژانس ځواکونه به په نږدې راتلونکي کې شمالي مقدونیې او بوسنیا هرزه ګوېنا ته هم واستول شي .

**شمالي مقدوینه او بوسنیا هرزه ګوینا د اروپایي ټولنې غړیتوب نه لري، خو اروپا ته د کډوالو د داخلېدو مهمې لارې بلل کېږي.**

**د فرانټېکس په خبره، له ۲۰۲۳ راهیسې کډوال تر ډېره د بوسنیا او هرزه ګوینا له لارې اروپایي ټولنې ته د اوښتو هڅه کوي. دغه اداره وایي چې په ۲۰۲۳ کې د مخکني کال په پرتله د بوسنیا او شمالي مقدونیې له لارې اروپایي ټولنې ته د اوښتونکو کډوالو شمېر ۸۰ سلنه زیات شوی دی.**

## سویډن هغه کډوال ځاري چې خپلو هېوادونو ته سفر کوي

مهاجرنیوز




**د سویډن حکومت د پنجشنبې په ورځ اړوندو ادارو ته امر وکړ چې د منل شویو کډوالو سفرونه وڅاري. د پناه غوښتنې د قوانینو له مخې، منل شوي کډوال خپلو هېوادونو ته د سفر کولو اجازه نه لري.**

**د سویډن حکومت د دغه هېواد د کډوالۍ ادارې، امنیتي ځواکونو او سفارتخانو ته امر کړی دی چې د کډوالو د سفرونو په اړه د معلوماتو د شریکولو نوي پروسیجرونه جوړ کړي.**

**د یوروا‌کتیف د خبر له مخې، د سویډن د کډوالو چارو وزیر یوهان فورسل د پنجشنبې په ورځ د دسمبر ۵ وویل: «که چېرې یو کس له خپل هېواد څخه د تښتېدو له امله [په سویډن کې] قبولي ترلاسه کړي وي، دا به ډېره عجیبه وي چې نوموړی بېرته یاد هېواد ته سفر وکړي. که دا کار وشي، دلته بیا پوښتنه راپورته کېږي چې ایا دغه کس اوس هم پناه ته اړتیا لري او یا هغه له پیل څخه ناسم معلومات ورکړي وو».**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

دا اعلان له هغه وروسته کېږي چې په سویډن کې د کډوالو د سفرونو په اړه بحثونه تاوده شوي او ویل کېږي چې کډوال د رخصتیو پر مهال خپلو هېوادونو ته سفر کوي. د بولېټین په نوم انلاین وبپاڼې په ۲۰۲۲ کې د نووس سروې موندنې خپرې کړې وې چې له مخې یې ۷۹ سلنه پوښتل شویو کډوالو ویلي وو رخصتی یې خپلو هېوادونو کې تېرې کړې دي.

د سویډن د کډوالو چارو وزیر دا هم وویل چې د پناه غوښتنې له قواعدو څخه ناوړه ګټه اخیستل کېږي، خو دمګړی «د سرغړونو د کچې معلومول اسان کار نه دی.«

د کډوالو پر وړاندې سخت دریخ

تمه ده چې د دغې نوې پرېکړې پایله راتلونکی اوړی معلومه شي. یوهان فورسل زیاته کړه چې د اوسېدو او د کار د قوانینو په اړه بحثونه ادامه لري.

په تېرو څو کلونو کې سویډن د کډوالو پر وړاندې خپل دریخ سخت کړی دی. په ۲۰۱۵ کې سویډن یو له هغو هېوادونو څخه و چې د کډوالو پر مخ یې خپله دروازه پرانیستې وه او تر ۱۵۰ زره زیات کډوال یې منلي وو .

د اسکاندیناویا دغه هېواد په ۱۹۹۰ کلونو کې هم د پخوانی یوګوسلاویا، سوریې، افغانستان، سومالیا، ایران او عراق زیات کډوالو ته پناه ورکړې وه. خو په ۲۰۲۲ کې محافظه کارانو او ښي اړخو افراطي ګوندونو پارلماني ټاکنې وګټلې. هغه مهال د دموکراتانو مشر جیمي اکېسون چې د کډوالی او جرایمو د کچې پر کمولو ټینګار کوي ویلي وو چې اوس باید سویډن ته لومړیتوب ورکړل شي.

له دې وړاندې د بشري حقونو د څار سازمان او د مدني حقونو مدافعانو د سویډن د کډوالی د سیاستونو او په ځانګړې توګه د اروپا د کډوالی او پناه غوښتنې طرحې په اړه اندېښنه ښودلې ده.

دواړو سازمانونو له استوکهولم څخه غوښتې وو چې د پناه غوښتنې عادلانه پروسیجر او بشري حقونو ته درناوی کوي .یادو ټولنو د هغو دولتي پرېکړو او تدابیرو په اړه هم خبرداری ورکړی دی چې د کډوالو حقونو ته زیان رسولی شي.

## صربستان ۱۴ میلیون یورو از اتحادیه اروپا برای کنترل مرزی های خود دریافت می‌کند

مهاجرنیوز



صربستان برای کنترول مرزهای خود ۱۴ میلیون یورو از اتحادیه اروپا دریافت می‌کند. به گفته مقامات هدف از این کمک، فراهم نمودن تجهیزات ویژه در مرزها و رودخانه‌ها برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی است. این کنترول مرزی به زودی به مقدونیه شمالی، بوسنیا و هرزگوین گسترش خواهد یافت .

اتحادیه اروپا برای تقویت کنترول مرزهای صربستان، ۱۴میلیون یورو کمک مالی به این کشور وعده داده است. به گزارش خبرگزاری فرانسه به روز پنجشنبه، امانوئل گیوفرت رئیس هیئت اتحادیه اروپا در شهر بلگراد گفت که هدف از این کمک، فراهم نمودن تجهیزات ویژه در مرزها و رودخانه‌ها برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی است.

اتحادیه اروپا و صربستان از طریق آژانس فرانتکس در مرزهای بلغاریا و مجارستان همکاری می‌کنند. به گفته مقامات کنترول مرزی به زودی به مقدونیه شمالی، بوسنیا و هرزگوین گسترش خواهد یافت.

از سال ۲۰۲۳ با تغییر مسیر مهاجرت به مقدونیه شمالی و بوسنیا و هرزگوین، ورود مهاجران غیرقانونی به صربستان به میزان قابل توجهی کاهش یافته است.

قابل یادآوری است که بین سال های ۲۰۲۱ تا ۲۰۱۴، اتحادیه اروپا بودجه خود را برای کشورهای بالکان غربی ۶۰ درصد افزایش داده و حال این بودیجه به بیش از ۳۵۰ میلیون یورو می‌رسد. این کمک های مالی برای مدیریت مرزها و همچنان برای پروسه پذیرش و پناهندگی در نظر گرفته شده است.

»مسیر مهاجرت از صربستان به مجارستان بسته است«

ایویکا داچیچ وزیر داخله صربستان، در واکنش به این کمک مالی ۱۴میلیون یورویی، تاکید کرد که «مسیر مهاجرت از صربستان به مجارستان بسته است اما پیوسته مسیرهای جدید برای عبور مهاجران ایجاد می‌شوند.» وی همچنین تصریح کرد که در سال ۲۰۲۳ تعداد گذرگاه ها در مرزهای صربستان نسبت به سال ۲۰۲۲ تقریباً ۷۰ درصد کاهش یافته است.

از سوی دیگر سازمان بین‌المللی مهاجرت گزارش داده است که بین جنوری تا اکتبر سال ۲۰۲۴ حدود ۱۵۲۰۰ مهاجر وارد صربستان شده‌اند که این آمار در مقایسه با عبور ۱۰۶۰۰۰ مهاجر در سال ۲۰۲۳ و ۱۲۰۰۰۰ مهاجر درسال ۲۰۲۲ کاهش یافته است .

بر اساس گزارش فرانتکس، به طور مجموعی، در طول پنج ماه اول سال جاری، تعداد کل عبور غیرقانونی از طریق مرز های اتحادیه اروپا به ویژه مسیر بالکان نسبت به سال گذشته ۷۱ درصد کاهش یافته یافته است.



این نقشه گذرگاه های مهاجران از طریق مسیر بالکان و صربستان را نشان می‌دهد.

نیروهای فرانتکس به زودی در مقدونیه شمالی و بوسنیا و هرزگوین مستقر می‌شوند

بعد از امضای توافقنامه همکاری با دولت صربستان در پایان ماه جون، نیروهای امنیتی فرانتکس در حال حاضر در صربستان، در مرزهای بلغاریا و مجارستان، مستقر شده‌اند. این توافقنامه که عملیات مشترک فرانتکس با گاردهای صربستان در آن شامل است، برای نظارت بر مرزهای آلبانیا، مقدونیه و مونته نگرو انجام می‌شود.

در همین حال، اتحادیه اروپا اعلام کرد که عملیات همکاری برای کنترول و تقویت مرزی به زودی به مقدونیه شمالی و بوسنیا و هرزگوین گسترش خواهد یافت. قابل یادآوری است که این دو کشور عضو اتحادیه اروپا نیستند اما مسیر عبوری برای ورود مهاجران به اتحادیه اروپا به شمار می‌روند.

فرانتکس گفته است که از سال ۲۰۲۳، مسیر اصلی مهاجرت از مرز صربستان تغییر جهت یافته و به مرز اتحادیه اروپا با بوسنیا و هرزگوین نزدیک‌تر می‌شود. این نهاد در سال ۲۰۲۳ در مقایسه با سال ۲۰۲۲، حدود ۸۰ درصد گذرگاه های مرزی غیرقانونی را ثبت کرده است.

خبرنامه